# ځوانان او د واده ستونزه

واده یو غوره ټولنیز عادت دی چې د فطري اوطبیعي غوښتنو ځواب ویونکی او د یوې سالمې کورنۍ دتشکیل لپاره یوازینۍ لار ده، د هغې کورنۍ چې په لمن کې یې جسمي او رواني روغتیا، عفت او پاک لمني پرته وي. له بل لوري کورنۍ په حقیقت کې د بشري نسل دوام او دیوې پرمختللې او متمدنې ټولنې اساس دي. که له یوې خوا واده طبیعي غوښتنه ده خو له بل لوري واده الهي نعمت، د الله د حمکت نښه او نبوي سنت دی، خو نن ورځ زیاتره کسان د هغو رواجونو او عادتو ترتاثیر لاندې راغلي چې د ځان ښودنې، بې ځایه فخر، بې ځایه غرور، ملا ماتونکی مهر، لوړ او بې ځایه مصارفو او داسې نورو انګیزې په اساس منځ ته راغلي، په دې سره هغوي داستره الهي لورینه ځوانانو ته په یوې سترې ستونزې بدله کړه، او د ځان او ټولنې سره یې سخت ظلم اوتیری وکړ.

د ځوانانو د یادې ستونزې ځینې علتونه عبارت دي له: لوړ مهر(ولوور)، بې ځایه مصارف، بیکاري او کم عاید، دمسوولیت نه تیښته، ایماني ضعف، ټولنیزې ناخوالې او نور خنډونونه دي چې په ځینیو یې په لاندې توګه لنډ نظر اچوو.

**لوړ مهر(ولور):**

په افغاني ټولنه کې پلرونه دخپلو لوڼو لپاره داسې ملا ماتونکي مهرټاکي چې دهلک کورنۍ یې په خورا مشکل او سختۍ سره برابرولی شي. نن ورځ مهر یو ډول سوادګري ګرځیدلي ده، له یو لوري هغه خپل ځښتن (نجلي) ته نه ورکول کیږي او له بلې خوا

کچه یې خورا زیاته وي. لوړ مهر وروسته له واده څخه ژوند سخت ستونزمن کوي چې ستونزې اوکړاوونه یې د هیچا له سترګو پټ ندي. حضرت محمد صلي الله علیه وسلم تیټ مهر تر ټولو غوره مهر بولي او په اړه یې فرمایي: (ترټولو غوره مهر هغه دی چې ترټولو لږه اندازه ورته ټاکل شوي وي،

او په بل ځاي کې وایي:ترټولو بابرکته واده هغه دی چې لږ.اوسپک مهر ولري.

همدا ډول په دې اړه په بل ځاي کې داسې فرمایي: ترټولو غوره او بابرکته ښځې هغه دي چې مهر یې لږ وي.

**بې ځایه مصارف:**

په ډیرو ښارونو او بانډو کې خلک په واده کې دځان ښودنې، ویاړ او یوې ناسالمې سیالۍ په اساس په بې ځایه مصرفونو لاس پورې کوي. یاد کسان هڅه کوي چې د ښار په ترټولو غوره هوټل او صالون کې د خپلوعزیزانو واده ترسره کړي او د بل هر چا په نسبت زیات وګړي راوبولي، هغوي دښار تکړه سندرغاړي خپل محفل ته دعوت کوي چې په دې ډول سره د هغوي د واده مصارف حتی ترمیلیون افغانیو هم اوړي. ځیني وګړي خوبیا په لومړي سر کې دهلک په کورنۍ دا شرط ږدي چې واده باید په هوټل کې ترسره شي، په دې اړه نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي: ترټول غوره واده هغه دي چې ترټولو لږ مصارف



ولري.

**بيكاري او كم عايد:**

بيكلوي او لږ عايد دوې هغه ستونزې دي چې په زياتره هيوادونو کې شته، خو په شاته پاتي او هغو هيوادو کې چې تازه پرمختګ يې پيل کړي، ياده ستونزه په بزګري دزياتې اتکا، دصنعتي پرمختګ ضعف، د کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ رکود او دماشيني ځواک پر ځاي د بشري ځواک څخه داستفادې له کبله بيخي زياته ده .

که يو ځوان په داسي نامطلوبو اقتصادي شرايطو کې واقع وي چې نه د کار زمينه ورته مساعده وي او نه ښه مالي حالت ولري، هغه به څه ډول د واده او ژوند دومره زيات مصارف پوره کوي؟! په نتيجه کې ډيری ځوانان اوپيغلې دروانې ستونزو سره مخ کيږې اوکله خو بيا له ټولنې او هر څخه متنفر کيږې ځکه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: فقر اوناداري ممکن انسان کفر ته سوق کړي.

- دمسووليت نه تيښته: له بدمرغه نن ورځ ډيری ځوانان دکورني مسووليتونو څخه د تيښتې په مرض اخته دي، چې لوی علتونه يې په نفس باندې داعتماد نشتون او د کورني مسووليتونو سره د مخ کيدو وېره ده، په دې ترتيب سره هغوي نشي کولاي چې د واده په

اړه تېنګ هوډ وکړي او کله کله خو بیا ځوانان په بې ځایه خیالاتو او د کورنۍ څخه د زیاتو توقوعاتو له امله هم نشي کولاي چې واده ته مخه کړي.

د ځوانانو دواده ستونزه نتها د یادو عواملو زیږنده نده په حقیقت کې ډېر نور عوامل هم شته، خو یو څیز چې د یادولو وړ دي هغه دا چې داسلام څخه ناسم پوهاوی ، کلونوکلونو جنګ جګړې او ناخوالي، بې سواده او داسي نور باعث شوي چې په ټولنه کې مهر لوړشي، دواده مصارف له حد څخه تیری وکړي او غلط او نادرست رواجونه دواده په مهمو برخو او ارکانو بدل شي، چې په نتیجه کې واده په یوه ستره اجتماعي ستونزه اوړي او دا کار دټولنې د فقر، فساد او ګډوډۍ لامل ګرځي.
دحل لاره څه ده؟

آیاهمداسي پرېږدو چې ټولنه په همدې طوفان کې غرقه او لاهو شي؟ آیا همداسي پرېږدو چې په ټولنه کې دفساد کچه لا لوړه شي؟..... نه! ټولنه باید له دې دردونکي حالت څخه وژغورل شي، خو دحل لاره څه ده؟ زما په اند یوازې یوه لاره پاتې ده هغه هم داسلام احکامو ته مخه کول دي، که چیرې دژوند په هر ډګر کې مونږ د قرآن او احادیثو په حکمونه عمل وکړو نو انشا الله چې ټولنه به له ټولو ستونزو څخه ژغورل کیږي. انشاالله